# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


**یادداشت:**

*اگر درنشر اولین اعلامیهٔ "انجمن اجتماعی صنف زحمتکشان افغانستان" به نسبت پائین بودن سطح شناخت ما از آنها، و اطلاع از این که امروز تعداد زیادی از کاسبکاران سیاسی، با ایجاد نهاد های فرمایشی فقط می خواهند وسیلهٔ معامله با نیروهای اشغالگر را تدارک دیده از آن طریق مطابق به خواست و سیاست اشغالگران مردم ما را نسبت به تشکلات امروزی بد بین و در عمل آنها را در همان چوکات های عقب مانده و قرون وسطائی، قبیله ئی، قومی و مذهبی محصور و دربند نگه دارند، نتوانستیم مطابق شأن چنین نهادی برای آنها خیر مقدم بنویسیم، امید است به خاطر احتیاطی که در زمینه انجام داده ایم ، پوزش ما را بپذیرند.*

*اکنون که طی این مدت به کمک دوستان و خوانندگان داخل کشور، شناخت ما از آنها در سطح بهتر و بیشتری قرار گرفته است، به خود اجازه می دهیم تا ضمن آنکه بنیان گذاری چنان نهادی را برای آنها تبریک می گوئیم، و از ارسال مطالب مربوط آن نهاد به آدرس پورتال که می توان آن را از آن تمام زحمتکشان و آزادیخواهان کشور دانست، ابراز امتنان می نمائیم، نشر اولین شمارهٔ "زیار" را نیز برای آنها از صمیم قلب تبریک عرض نموده، به آنها اطمینان می دهیم که می توانند پورتال"افغانستان آزاد- آزاد افغانستان" را از خود دانسته و ما را درانجام وظایف مبارازاتی درکنار خویش احساس نمایند.*

*شاد و پیروز باشید*

*اداره پورتالAA-AA*

له زیارخپروني څخه
۱۳ می ۲۰۱۱

## د خځلو ماشومان

افغانستان د هغو هیوادونو له ډلې څخه شمیرل کیږي چې د نورو وګړو تر څنګ، ماشومان یې تر ټولو زیات له کړاونو، رنځونو او بدبختیو سره مل دي، چې دا د بیوزلو هیوادونو یوه تر ټولو مشترکه ځانګړنه ده. په شتمنو هیوادونو کې چې د بیوزلو د ځپلو له لارې سوکاله ژوند لري، خپلو ماشومانو ته هر ډول آسانتیاوې چمتو کوي، خو د افغانستان په څیر هیوادونو کې چې زیاتره

اوسيدونكي يې بيوزلي دي، د كورنيو د مشرانو تر څنگ ماشومان هم بايد له سهاره تر ماښامه كار وكړي څو خپلې كورنۍ ته يوه مړۍ ډوډۍ پيدا كړي.

زموږ د هيواد ماشومان له تفريح سره بيگانه دي؛ هغوی په خځلو كې لوبې كوي او پاركونو، سينماگانو او نورو تفريحي ځايونو ته تللی نشي. زموږ د هيواد ماشومان له ساده ناروغيو څخه مري، ځكه ماشومان مو روغتونونو ته تللی نشي او درمل ته لاسرسی نه لري. د افغانستان ماشومان د پلاستيكي بوتلو او نورو شيانو په لټه كې له سهاره تر ماښامه د كثافاتو په منځ كې گرځي څو دغه شيان په بازار كې وپلوري او له خپلې كورنۍ سره مرسته وكړي.

كه څه هم په افغانستان كې يو شمير شتمن خلک د ماشومانو په نوم يوه ورځ لمانځي، خو دغه كار يې يوازې د بيوزلو د تيرايستلو لپاره دی، نه دا چې له هغوی سره د ماشومانو فكر وي. هغوی د خپلې شتمنۍ او پانگې د زياتولو فكر لري، كه نه دوی كولای شول په خپلو پيسو د ماشومانو د كورنيو لپاره د ښه كار زمينه برابره كړي او د ماشومانو د تفريح او سوكاله ژوند د تيرولو لپاره تفريحي ځايونه.

ماشومان هغه مهال له دې وضعيت څخه راوتلی شي چې په هيواد كې د شتمنو او بيوزلو تر منځ واټن موجود نه وي؛ ټول يو ډول ژوند ولري او يا لږ تر لږه يو له بيوزلۍ او لوږې څخه مړ نشي او بل له زياتې شتمنۍ او پانگې څخه. تر څو د بيوزلو او شتمنو تر منځ دغه واټن موجود وي، ماشومان به نه دارو او درمل ولري، نه د خوړلو لپاره خواړه او نه د تفريح لپاره وخت؛ ماشومان به په همدې ډول په خځلو كې لوبو كولو ته دوام وركړي او په كثافاتو كې به د خرڅلاو لپاره د شيانو په لټه كې وي.

# ای هلا!

*تا که او زحمت کشد*

*خون دل باید چشد*

*باسر انگشتش روان*

*خون او در جام روز*

*مظهر سرمایه سوز*

*زندگی در مشت او*

*کولهٔ باری پشت او*

*گر که صف آرا شود*

*فاتح دنیا شود*

*بر سریر زندگي*
*بشکناند بندگي*
*با شکوه بازوان*
*منجی فرزادگان*
*بشکفاند داد را*
*بشکند بیداد را*
*صبح ها تا شام ها*
*می نهد بر گام ها*
*شیرۀ جان خودش*
*کوه ایمان خودش*
*آفریند سود را*
*هست را و بود را*
*زندگی، سازندگی*
*بر ستم تازندگی*
*بر جبین کارگر*
*در نهاد بذرگر*
*این صدا تا جاودان*
*بر رواق آسمان*
*ای هلا! بر پا شوید*
*شهرۀ دنیا شوید*
*نام تان جاوید باد!*
*مظهر امید باد!*